AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باش

شهسوار سنګروال

۲۰۲۶/۰۳/۰۳

# نکلونو کې تاريخ

## ۷مه کیسه

اريانا که ايران ؟ دمصرپه سکندريه کې کښل شوې نخشه ،

د هغه مهال لر غوني ژبې

ولسون،چې دهند د ختيځې کمپنۍ wilson ) او (چارلس مېسيون Masson

مامورين وو، په ۱۸۴۱ کال يې يوکتاب وليکه،چې اوس د« اريانا انتيکا » په نوم نامتو دی اوپه برېټش کتابتون کې ترلاسه کېدی شي .

داچې ويل کېږي لرغون پوهانو د « اريا » يادونه کړی ده ، د تامل ور برېښي .

هېرودت هم « اري » زکر کړی دی ، خوهغه وخت لرغونوپارسيانوځانونه « ارتاېي » بلل .

« تولو مي » هم داريانا يادونه نده کړې ، خو استرابون ، نه يوازې د اريانا يادونه کړې ده ، بلکې د « باختر » يا دونه هم کړې ده .

د اريايانو په لړ کې د پارتيا، ماديا او يوشمېر نورونومونه هم زکر شوي دي ، ولې اراتوستين په دريېمې مخزېږدي پيړی کې يوه لويه نخشه وکاږله ،چې په مصر کې اوس هم په هغه کتابتون کې موجوده ده ، چې دغه کتابتون

( ماليدلې ده .ليکوال ) ،دسکندريه په ښار ګوټې کې جوړشوی دی .

په دغه نخشه کې د« اريانا » نوم په همدغه بڼه کښل شوی دی اوداسې برېښي چې ګڼي دهندوکش جنوب ته موقيعت لري .

د سکندريوشمېر ميرزايانوليکلي دي، چې دوی،له سيمه ييزوخلکو نه د اريانا نوم اورېده ، ولې يوشمېر څېړونکو، د هخامنشيانود مهال د امو رود شاو خواسيمونه د باکتريانا نوم کاروو ، چې شمال لويديځ ته يې پارتيان د واک اوځواک ښتن ول .

« اپولودوموس » او « ارتيميس » پارس ، ميديا ، سغدانيه اوباختريانا د اريايانا برخه ګڼي .

د هندوانو دبرهمني مذهب په کتاب ريګويدا کې، له هندوکش نه د هند ترشمال پورې خلک اريايان بللي دي .

دزرتشتانو په مذهبي کتاب اوستا کې « اريانا ويجه زکر شوی،چې د۱۶ ولايتونويادونې پکې راغلې د ي .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

یوشمېر لرغونپوهانوباختر دلویدیځ په معنا زکر کړی اوځنو بیا دختیځ په معنا کښلی دی ، ولي د « اپاختیاریا » سیمي یي د اریا شمالي سیمو ته پرتي سیمي بللي دي .

« بورنوف » په دي نظر اواند دی ، چي د« اپا ختیاریا » کلیمه په اوستا کي زکر شوي ده چي د شمال په معنا دی ، خو د بلهیکا نوم تر ډېره بریده دهند په استورو کي زکر سوی دی .

د سنت ما رتین » په نظر،

دساسانیانو په سیکوکي کښل سوی دی او د ایران یوژبپوه aniran انیران»

ملایري دیوشمېرنوروپروړاندې ویلي دي ، پارسي قدیم،ُپارسي میانه اوپارسي یي جدید کومه معنا اوعلمي بنسټ نه لري .

پهلوي اشکاني پارتي د هخامنشیانو د مهال د « ارامي ژبي » ځاي ناستي شوه اوڅلور پېړۍ یي دوام وکړ.

دساسانیانو په وخت کي پهلوي داشکاني ځاي ونیواوکله چي عربان راغلل ،عربي ژبي بیا دهغي ځاي ونیواودلیکدود بنه یي په بشپړه توګه واړوله ،

په یوشمېر لیکنو کي دایران کلیمه هم کارول شوي ده .

خوڅومره چي د مهابهاراتا ، ویدي سنسګرت ، اوستا اودنورولرغونو ژبو خبره ده ، ویدي سنسګرت دګډې هندي ژبي بېلګه ده،چي بیایي د کلاسیک سنسګرت په بنه ادامه پیداکړه،چي بیا مینځنی اونوې هندي ترې بېله شوه .

ویدي دارییانود لومړنیوسرودونو ژبه وه،چي دهندوکش په شاوخوا کي وده اوپرمختګ وکړ .

« ویدا » د معرفت په معنا دی ،چي پوهان اوشاعران یي د ریشي په نامه نامتو ول ... ولي یوشمېر ژبپوهان انګېري،چي دلرغونواریایي لهجو شمېرشاوخوا شلو (۲۰ ) ته رسېده .

بله لرغوني ژبه اوستا وه ،چي دختیځې اریایي ژبوله ډلګی څخه ګڼلی کېږي ،چي دافغانستان په شمال ختیځ کي زیږېدلي اوپه توله کي ویدي سنسګرت ،اوستا اودغه دواړه ژبي ،له هندو اروپایي ژبو رابېلي شوې دي ، چي د اکسوس اواندوس ترمینځ ویل کېدې .

اوستا یا اوستاک د اساس اویا د بنسټ په معنا دی او په لویه کي پنځه برخي لري،چي موهمه یي ګاتا نومېږي ،چي د سرود معنا لري اومنظومه برخه یي ګڼلی شو .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ